د ستراوځواکمن څښتن تعالی په سپيڅلي نامه

Logar

لوګر

مياشتنۍ خپرونه

دلوګر اطلاعاتو او فرهنګ رياست مياشتنۍ سياسي، علمي، ټولنيزه، ديني او فرهنګي خپرونه

شنبه د۱۳۹۴ کال دوږې مياشتې يووېشتمه د ۲۰۱۵ عيسوي کال دسپتمبر دولسمه | (۱) | پرله پسې ګڼه (۷۲) | لومړی کال څلورمه ګڼه


طبراني او ابن النجار له حضرت علی کرم الله وجهه نه روايت کوي: چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي دي: تاسو خپلو اولادونو ته درې خويونه ور وښيئ ! ستاسو دنبي مينه، دهغه دکورنۍ مينه اودقرانکرم تلا وت ځکه دقران حافظان به دالله دعرش په هغه سيوري کې له انبياو او نيکو خلکو سره وي، چې په هغه ورځ بل ځای سيورې نه پيدا کيږي.

# ازنودوششمین سالروز استرداد واستقلال کشور تجلیل بعمل آمد

ازنودو ششمین سالروز استرداد واستقلال کشور طی محفلی با شکوه به تاریخ 28 اسد، در ولایت لوگر با اشتراک صدها تن تجلیل بعمل آمد.



جشن استرداد استقلال کشورطی محفل باشکوه که درتالارشاروالی شهرپل علم راه اندازی شده بود درآن مسولین دولتی،عالمان دین، قوماندانان جهادی، بزرگان اقوام،جوانان وخانمان اشتراک ورزیده بودند.

درابتداء این محفل آیات چند ازکلام الله مجید قرات بعد از پخش سرود ملی کشور مولوی اسدالله حنیف ریس شورای صلح ولایت لوگرپیرامون نودوششمین سالرزو استقلال وازادی کشور از چنگال تجاوزگران وقت صحبت های همه جانبه نموده گفت تجلیل از این روز خجسته یک درس خوب برای نسل های آینده ما است وی از تمام طرف های درگیری خواست تا با پروسه صلح یکجاشوند وجنگ وبرادر کشی را در وطن عزیزمان خاتمه دهند.

درجریان محفل بزرگان قومی وقوماندانان جهادی ولسوالی های شش گانه ولایت لوگر هریک باالنوبه درراَبط به استرداداستقلال کشورصحبت های حماسه آفرین نمودند وآزادی را حق مسلم هر انسان دانستند آنان ازکارکرد ها وفدا کاری های مجاهدین که در مقابل تجاوزگران وابرقدرت وقت ازخود گذری کرده واین وطن را از سلطه انان نجات دادند به نیکویی یاد آورشدند وگفتند که در وقت ضرورت آنان اماده هستند تا به نقش قدم های پدران ونیکان شان قدم گذارند همچنان این سخنرانان از دولت خواستند تا نیروهای امنیتی را تجهیزنموده تاباشد به دشمنان این مرزوبوم جواب دندان شکن بدهند.

درجریان محفل ترانه ها واشعارمیهنی نیزاز سوی شاعران به خوانش گرفته شد.

محمد حلیم فدایی والی لوگردرجریان صحبت هایش درمحفل یادشده گفت: مردم ما تنها قربانی شعارهای برخی از افرداد شده اند ولی آزادی واستقلال یکی از آرمان های دیرنه مردم با دیانت وباغرورکشور است که باید هر فرد این جامعه رنج دیده بخاطر حفظ کردن آزادی، مسولیت ایمانی و وجدانی خویش را ادا نمایند وی از تمام جوانان خواست تا با نقش قدم های مجاهدین وقت قدم بگذارند تا وطن خویش را آباد واز مداخله های همسایه ها جلوگیری گردد.

دراخیرمحفل بالای منسوبین نیروهای امنیتی از سوی والی لوگر تقدیرنامه ها توزیع شد. باختر

## لوګر میډیا سنټر (LMC) رسماً پرانستل شو

د لوګر ولایت په مقام کې د رسنیو لپاره مرکز؛ یا لوګر میډیا سنټر (LMC) رسماً د وږې په ۱۲مه د لوګر والي محمد حلیم فدایي او د ولایتي ادارو د یو شمیر رئیسانو له لورې د پټۍ په پرې کولو پرانستل شو.



دغه میډیا سنټر په یوه وخت کې د دیرش تنو ژورنالیستانو د ځایدو وړوي، چې د پېښو، خبرونو او خبري کنفرانسونو د ثبت لپاره منظم ارشیف ولري. په دې میډیا سنټرکې به د هرډول ویډیو، غږیز او تصویر اخیستلو په وسایلو سمبال او ددې ترڅنګ له مطبوعاتو پرته د ظرفیتونو د لوړولو او کوچنیو غونډو د جوړولو امکانات هم ولري.

د یادونې وړ ده چې ددې میډیا سنټر څخه د ولایت ټولې ادارې او خلک ورڅخه استفاده کولای شي.

## دلوګرد عامه کتابتون نوې ودانۍ ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه

دلوګرد عامه کتابتون نوې ودانۍ چې دلوګرمرکز په زړه کې موقعیت لري؛ د وږې په لسمه دیوې شانداري غونډې په ترځ کې د پټې په پرې کولو سره سم ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه. ددغې ودانۍ ساختماني چارې ؛ چې شپږمیاشتې مخکې د (۲۱۰۰) متره مربع ځمکې پرسرپه یو پوړ کې په پاخه او اساسي ډول پیل شوې وې، کارېې بشپړ او رسماً ګټې اخیستنې ته چمتواو پرانستل شوه.




دکتابتون دپرانستې په غونډې کې لوګروالي محمد حلیم فدایي په ګډون، داطلاعاتو او فرهنګ وزیر عبدالباري جهاني، دکانونو وزیره اکټرداود شاه صبا، داطلاعاتو او فرهنګ وزارت دفرهنګي...


پاتې په دویم مخ کې


## سرلیکنه

### دزمري ۲۸ مه د افغانستان د خپلواکۍ ویاړلې ورځ

د زمري ۲۸ مه دافغانستان د ازادۍ او خپلواکۍ ورځ ده. پوره ۹۲ کاله وړاندې زمونږنیکونو او پلرونو، په خپل اتلولیو، میړانې او شهامت دترسره کولو په پایله کې افغانستان دوخت له یرغلګر وانګلیسانو څخه آزاد او هغوی ته یې غابښ ماتوونکې ځواب ورکړل.

انګریزي استعمارګرو په سیمه کې دخپل سیاسي حاکمیت په ټینګولو، سیاسي او اقتصادي موخوته درسېدو لپاره زمونږ پر سپیڅلې خاوره درې ځلې حملې کړیدي، خو یو ځل هم پر دې ندي بریالي شوي، چې زمونږ پر خاوره دزیاتي مودې لپاره خپل بشپړ سیاسي واک قایم او دایم کړي.

په ۱۹۱۹زیږدیز کال دآزادۍ دتر لاسه کولو جګړه دمیړني ولس دستر او غښتلي بچي شاه امان الله خان غازي په مشرۍ دپای ټکی کښیښودل شو او بریا زمونږ افغانانو په برخه شوه.

دزمري ۲۸ مه زمونږد میړني ولس پر اتلولیو، میړانې او غرور نه ډکه ورځ او دستر غازي امان الله خان دیاد ورځ ده. ددې ورځې په منا سبت چې دافغا نستان داستقلال دورځې په نامه دافغا نانو په تاریخ کې په زرینو کرښو لیکل شوې ده، نو ټولو میړني افغا نانو لپاره دویاړونو اودهسکو شملو ورځ ګڼل کیږي. چې افغانان باید دغه ورځ په ځانګړو مراسمو ولمانځي. دوی دخپلو، باتورواو ننګیالیو، شهیدانو، غازیانو، اتلانو او مجاهدینو کارنامې راژوندۍ او تل یې ستاینه وکړي.

دداسي ملي او پرتمینوورځو په درناوي؛ دټولو افغانانو ملي وجیبه ده، چې په را رسیدو سره یې دوی په خپلو منځونو کې په پوره یوالی، وروړګلوی، اتحاد، مینه او محبت سره یادونه یې وکړي، چې زمونږ په ویاړلي تاریخ کې نوم تل ژوندی پاتې شي او کوم هیواد، چې افغانستان ته د یرغل وړلوو، فکر ولري، له دې برم تاریخ څخه عبرت واخلي. درنو هیوادوالو، شمله وررو او سرلوړو افغانانو ! راځئ چې دخپل ګران افغانستان دآزادي او خپلواکي ورځو ته ویاړ وروښنوو؛ د ډاډمنې سولې په راوستو، په خپلوکې دیوالي اویومتې کیدو، دجنګ اوجګړو څخه لاسنیوی، دقدرت اوڅوکي دفکر کولو پرځای د افغان ملت کړیدلي اوځوریدلي ولس ته خدمت کولو شعار په ژبه نه؛ بلکې عملي جامه ورواغوندو. نو بیا دشته ناخوالو څخه وتلای شو او تل بریا به زمونږ په برخه وي.

تل پاتې دوي زمونږ آزادي او خپلواکي !

په لـوګـرکې دلمړي ځل لپاره دعامه کـتابتون ودانۍ پرانیسته اوپه فعالیت پیل کول، دځـوان نسل لپاره یو ښه زیرې دی.